۶۰۸

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

اصلاح ملی

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

۴۸مه ګڼه ۱۳۹۴لمریز کال د حوت۲۹مه د ۱۴۳۷ هـ ق جمادي الثاني ۹مه د ۲۰۱۶ ل د مارچ۱۹مه

د غني، فقیر حکومت!

جمعیت اصلاح و وحدت ملی

گذشت سال ۹۴، در سایه یی از مشکلات

و آمد سال ۹۵ همراه با چالشها!

دروسی که باید از بهار گرفت

بهار نوید بخش آخرت است، خداوند هر سال یک بار زنده کردن طبیعت بعد از مرگ زمستانی را به ما نشان می‌دهد، تا تصور زندگی بعد از مرگ برایمان آسان گردد. خدایی که قادر باشد هر سال یک بار زمین و روییدنی‌های آن را بمیراند، سپس زنده گرداند، توانایی آن را هم دارد که تنها برای یک بار آدمی را بمیراند و در آخرت زنده گرداند.

• بهار خوش آب و هوا دائم در پسِ زمستان سرد و سوزان می‌آید، همان‌گونه که روزِ روشن در پسِ شب سیاه. «وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ رِزْقٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ آيَاتٌ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ» (جاثیه: ۵) یعنی، همچنین در دگرگونی شب و روز و در چیزهایی، (همچون باران و نور و اشعّه‌های گوناگون) که خدا از آسمان فرو می‌فرستد و (سبب) رزق و روزی هستند و خدا به‌وسیله‌ی آن‌ها زمین را بعد از مرگش حیات می‌بخشد و نیز در وزش بادها (و بالطبع دگرگونی هوا) نشانه‌های بزرگی است برای آنان که به تعقّل می‌پردازند. این آمد و شد پی در پی، حامل پیام امید است و به انسان می‌آموزد که فضای سرد و تاریک موجود همیشه ماندگار نیست و اگر تاب مقاومت در برابر آن وجود داشته باشد، رو به زوال است و خورشید گرم و تابان در پس این سوز و تاریکی، هر آن پرده از رخسار می‌زداید. سختی‌های امروز را به امید دستیابی به خوشی‌های آینده باید تحمل نمود.

در نومیدی بسی امید است پایان شب سیه سفید است

نباید از زمستان انتظار هوای گرم داشت و از شب هوای روشن، بلکه باید با سرما و سیاهی آن دو ساخت و برایشان چاره‌اندیشی کرد. به قول اقبال لاهوری:

مسلمانی که داند رمز دین را نساید پیش غیرالله جبین را

اگر گردون به کام او نگردد به کام خود بگرداند زمین را

• بهار یادآور گذشت یک‌سال از عمر آدمی‌ست و بهترین زمان برای محاسبه‌ی نفس و تجدید و تکمیل عهدهایی که با خود و خدای خود بسته‌ایم. رمز موفقیت انسان‌ها در محاسبه‌ی به هنگامِ نفس و اقدام به برطرف نمودن معایب است. کسانی که به محاسبه‌ی هر از چندگاه خود نمی‌پردازند، به معایب خویش اطلاع نمی‌یابند و در نتیجه چون به رفع آن عیوبشان نمی‌پردازند، در باتلاق معایب خویش دست و پا می‌زنند. بهار بهترین فرصت برای این مهم است. صاحبان اندیشه‌ی سالم به حساب خود می‌رسند، قبل از اینکه به حسابشان رسیدگی شود و نابخردانِ غافل از احوال خویش، محاسبه‌ی نفس را جفا به خود تلقی می‌نمایند.

• هدف از محاسبه و لازمه‌ی آن، برنامه‌ریزی برای آینده است که بدون آن محاسبه معنایی ندارد. هر کس گرایشی به تغییر و حرکت به سوی کمال دارد، باید در نیمه‌ی دوم اسفند محاسبه‌ی سالانه‌ی خویش را آغاز کند و برای سال پیش رویش برنامه ریزی نماید و اهداف سالانه‌ی خود را نصب العین قرار دهد، تا هر قدمی را که در سال نو برمی دارد، رو به جهتی مشخص و در راستای تحقق هدفی معین باشد. بدون داشتن نظم و برنامه جهت حرکت انسان روشن نیست و آدمی توانایی سنجش و ارزیابی خود را ندارد. بهار مناسب‌ترین فرصت برای این مهم نیز هست.

• بهار، شادابی، طراوت، سرزنده بودن و تنوع پذیری را به ارمغان دارد. بهار هر سال، سه ماه بیشتر نیست؛ اما می‌شود دوازده ماه سال را بهاری بود. بهار می‌تواند ایستگاه خوبی برای تقویت روحیه‌ی نشاط و شادی و دگرپذیری و پایان دادن به جمود و در لاک خود ماندن و افسردگی و اندوه باشد. انسان در بهار بیش از هر فصل دیگری میل به بهره بردن از طبیعت و زیبایی‌های موجود در آن دارد، بیش از هر زمان دیگر به سیر و سفر می‌پردازد و برای آسایش تن و آرامش روان برنامه‌ها دارد. او می‌تواند برای همه‌ی سال انرژی و روحیه کسب کند و در فصل‌های دیگر سال نیز بهاری رفتار کند و بدین صورت بهار می‌تواند منشأ تغییر و تحول روانی و رفتاری در آدمی باشد.

برخورداری از هر نعمتی، تکالیفی به دنبال دارد که فرار از این تکالیف، منجر به زوال آن نعمت می‌گردد. بهار نیز نعمتی از نعمت‌های خداوند است که با وزیدن نسیم‌های نوید بخشش، مسؤولیت‌ها و تکالیفی را بر ما تحمیل می‌کند و بدون انجام آن‌ها از فواید و خوشی‌های آن کم بهره خواهیم ماند. از آنجا که در فصل بهار ارتباط انسان با طبیعت به اوج خود می‌رسد؛ و لذا اگر به وظایف خود در قبال طبیعت آگاه نباشد، می‌تواند بدترین نوع آسیب را به طبیعت وارد سازد. حفظ محیط زیست، مهم‌ترین وظیفه‌ی انسان در هر زمان خصوصاً در فصل بهار می‌باشد.

برخی از نوشتهٔ دلیر عباسی

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید

کابل: تایمنی، چهار راهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفتر مرکزی جمعیت اصلاح. تیلفون: ۰۷۸۱۵۴۴۱۱۵

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار: موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهر نو، چهار راهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. ۰۲۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر.

کابل: کمپیوتر فروشی الکاموي جاده نادر پشتون، مارکیت الله نظر منزل ۲ دوکان ۲۳/ . ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: کابل ده افغانان کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال آباد، نارنج باغ، عبدالحق مینه، (دکابل د موټرو اډه) د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر ټیلیفون: ۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

جلال اباد- اسحاقزی مارکیټ، لاندي منزل، اصلاح افکار تلیفون: ۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱

کندهار: نوی ښار، د هرات سرک، د سري جامع غرب طرف ته سوري مېنه د امام ابوحنیفه رح تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر تلیفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳

لغمان: مهترلام ښار، حمزه مارکیټ تیلفون: ۰۷۷۵۶۷۶۰۹۹

هرات: سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا انجمن اخلاق و معرفت شماره های تماس: ۰۴۰۲۳۷۰۱۲ - ۰۷۸۹۰۰۸۱۵۲

بلخ: عقب حمام سره میاشت، مرکز تعلیمی اصلاح ۰۷۸۸۸۰۴۰۵۵

کندز: شهر کندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، مؤسسه تحصیلات عالی سلام ۰۷۸۷۷۰۳۷۲٤

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷ / ۰۷۷۷٤۷٦٤٦۹

لوگر: مرکز، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع، کتاب فروشی سادات، سید عبدالحمید هاشمی، تیلفون: ۰۷۰۰۴۴۹۸۱

لوگر: محمدآغه، واغجان بازار، پهلوی کلنیک حسین خیل، تیلفون: ۰۷۷۵۴۱۳۸۷۶

پکتیا: د گردیز ښار، مرکزي چوک، د نی نمایندگی وحید الله: ۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست: افغان تاور شاته خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پور د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر د اکتر محمد گلاب: ۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: بازارچه کتاب دکان مولوی حبیب الرحمن ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان فیض آباد: ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸ / ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴

زابل: قلات، عمومي جاده، د نجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترخنگ، شمپره: ۰۷۰۶۵۲۷۱۸۶--۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹

فراه: ناحیه سوم، مقابل مسجد جامع قاضی، مرکز علمی و فرهنگی توحید شماره تماس: ۰۷۹۹۸۴۳۶۱۱

نیمروز: سرک ولایت، نا رسیده به قوماندانی امنیه، مرکز علوم قرآنی اعجاز، سید امیر قریشي: ۰۷۹۶۳۰۹۱٤۰

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

نوی کال او د سولې ناغوړېدلې غوټې

دا دی یو ځل بیا زمونږ پر هېواد او هېوادوالو یو بل کال را دېره شــو، تېر کال سره له خپلو ټولو ناخوالو، غمیزو، ښو او بدو تېر شو، خو د سولې د هیلو هغه غوټې چې په تېر کال کې را ټوکېدلې وې، تر غوړېدلو ونه رسیدلې.

دا چې زمونږ پر هېواد له څو لسیزو څخه د غم ورېځې خپرې دي او هر پسرلی یې د نویو ناخوالو په بدرګه را دېره کېږي، خو د تېرکال وروستیو خلکو ته دا هیله را پیدا کړه چې د سولې غوټې به ډېرې ژر را وټوکېږي او د هېواد په ګلبن کې به د امن وږمې خورې شي.

که څه هم تر اوسه لا د سولې په اړه کوم پرېکنده ګام نه دی اوچت شوی، او په دې لاره کې لا ډېر بهرني او داخلي خنډونه شــتون لري، خو په ســیمه‌ییزه او نړیواله کچه چې کوم بدلونونه تر سترګو کېږي، که له یو لوري په هېواد کې د سولې په اړه خوشبینۍ زیاتوي، له بل لوري دا وېره هم لا زیاتوي چې د دې واکدارانو په شتون کې به چې هر یو یې خپلو شخصي ګټو ته په ټولنیزو هغو لوړوالی ورکوي، څنګه د خلکو د سولې آرمان پوره شي؟ همدا راز د بهرنیانو او ګاونډیانو خراب نیتونه او اوبه خړول دا وېره هم زیاتوي چې-الله مه کړه ـــــ زمونږ هېواد یوځل بیا د پردیو د جګړو ډګر نه شي.

تېر کال که څه هم په امنیتي، اقتصادي او سیاسي اړخ کې ډېر کړاوجن کال ؤ، خو سره له دې ټولو د حکومت د وسله والو مخالفینو د سولې د پروسې په اړه نرمه لهجه او موقف تر ډېره د سولې په اړه هېلې راژوندۍ کړې، په ۱۳۹۴ کال کې ډېرو هېوادوالو خپل ډېر خپلوان له لاسه ورکړل، ډېر د غم پر ټغر کیناستل او ډېرو خپل هېواد پرېښود، خو سره له دې هم سولې ته هیله‌من دي.

په دې کې شک نه شته چې د سولې پر وړاندې تر ټولو ستر خنډ بهرنۍ لاسوهنې او د پردیو غوښــتنې دي او په دې کې لږ د افغانانو خپلې ګټې او غوښــتنې په پام کې نیول کېږي، چې په همدې سره دا پروسه له ننګونو سره مخ ده، بلخوا د کال په وروستیو کې د سولې عالي شورا یوځل بیا د مشر- او مرستندویانو تر ټاکل کېدو وروسته تر یوه حده راژوندۍ شوه چې د سولې پر لور یو ښه ګام دی او کیدای شي چې نوې شورا هم په ۱۳۹۵لمریز کال کې خپل افادیت وښیي.

زمونږ د هېواد د ســتونزو حل له خبرو پرته بله لاره نه لري او هېڅکله به هم د زور له لارې هېڅ لوری بریا تر لاسه نه کړي او نه به هم د زور له لارې په هېواد کې سوله او امنیت را منځ ته شي، بلکې په دې سره به لاهم د جګړو او افغان وژنې لړۍ اوږده شي چې بیا به هېواد لکه د تېر نږدې تاریخ په څېر بیا د نورو نویو یرغلګرو د لوبو ډګر شي.

امریکا او ځینې ګاونډي هېوادونه هېڅکله هم دلته ســوله نه غواړي او له هغوی نه د ســولې تمه بېځایه ده، نو افغانان باید په نوي کال کې په یوه خوله د ســولې لپاره غږ اوچت کړي، ځکه چې دلته تر هرڅه وړاندې امنیت او سوله اړینه ده، او تر هغو دلته اقتصادي پرمختګ، تعلیمي پراختیا او ثبات نه شي رامنځ ته کیدلی او فســاد له منځه نه شي تللی، تر هغو چې دلته ســوله نه وي راغلې.

نو راځئ چې په نوي کال کې په یوه خوله او اخلاص سره د سولې لپاره آواز اوچت کړو، په دې لاره کې خپل ټول وسایل په کار واچوو او د هغو خلکو او ډلو پر وړاندې اودرېږو چې د سولې مخالفت کوي او پر وړاندې یې خنډونه را ولاړوي.

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح اونیره

دلسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

رئیس هیأت تحریر:

احمد ضیاء رحیمزی

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشي

اعضاء هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
عبدالفتاح جواد
محمد اکبر مؤحد
وحید الله مصلح
عزیز احمد حنیف

شماره مسئول توزیع: 0744157052

همکاری نقدی تان را به ما بفرستید

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001202080036
(افغانی)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001201080036
دالر امریکائی

جمعیت اصلاح و وحدت ملی

داکتر غلام رسول شفیق - استاد پوهنتون هرات

وحدت ملی یا به تعبیر دیگر انسجام اجتماعی نه تنها یکی از نیازهای اساسی و ضروری هر مجتمع انسانی است، بلکه در شناخت هویت و اعتبار یک جامعه نیز نقش اساسی ایفا میکند. به همین دلیل عقلای هر اجتماع میکوشند تا رشتهٔ ارتباط میان افراد جامعه را محکم نموده و اتحاد شان را مستحکم سازند.

اتحاد و همدلی میان اعضای جامعه یک رحمت الهی است، چنانچه الله عزوجل در قرآن کریم میفرماید: (وَاذْكُرُواْ نِعْمَتَ اللّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاء فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَاناً) سورهٔ آل عمران آیه ۱۰۳. ترجمه: (و نعمت خدا را بر خود یاد کنید، آنگاه که دشمنان (یکدیگر) بودید، پس میان دلهای شما الفت داد، آنگاه به (فضل) نعمت او برادر (یکدیگر) شدید).

و مسلمانان را از تفرقه و پراکندگی شدیداً نهی فرموده است، چنانچه در سورهٔ آل عمران آیهٔ ۱۰۵ میفرماید: (وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِن بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ ۚ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ) ترجمه: (و مانند کسانی نباشید که پراکنده شدند و اختلاف کردند پس از آنکه دلایل روشن برایشان آمد، و اینان برایشان عذاب بزرگی است).

امروزه علمای جامعه شناسی نیز به مجموعه یی از قوانین اجتماعی پی برده اند که رعایت آن وحدت ملی را به بار آورده، بی توجهی به آن سبب تفرقه میگردد. اکثر کشورهای جهان از این قوانین جهت تحکیم انسجام اجتماعی جوامع شان استفاده نموده و در این راه ثروتهای هنگفتی را به مصرف میرسانند. علاوه بر آن دانشمندان، فعالان و دلسوزان هر جامعه یی در این رابطه تلاشهای فراوانی انجام میدهند.

جمعیت اصلاح بحیث یک نهاد اسلامی و اجتماعی تحکیم وحدت ملی را از مهمترین ضرورتهای جامعه دانسته و در این راستا تلاشها و فعالیتهای فراوان و مؤثری انجام داده است. ما به این نظر هستیم که ابنای جامعهٔ ما نباید دچار شکست روحی شده و مشکل جامعهٔ افغانستان را لاینحل و وحدت ملی را ناممکن فکر کنند، زیرا مشکلات جامعهٔ مان یک طلسم نیست، بلکه با تلاشهای پیگیر و کسب آگاهی لازمه و تغییر چشم اندازها و تصحیح نظریات و دعا و نیایش به حضور پروردگار خویش خواهیم توانست افغانستان را به یکی از کشورهای باثبات، منسجم و مترقی جهان تبدیل نماییم. ان شاء الله.

عوامل تقویت کننده وحدت ملی:

آنانیکه وحدت ملی را بخاطر چند ملیتی بودن اقوام افغانستان ناممکن میدانند، باید بدانند که در جهان کشورهای زیادی است که چند ملیتی بوده، اما باوجود آن از انسجام اجتماعی بسیار دقیق برخوردار اند. بطور مثال کشور سویس از چهار قوم عمدهٔ فرانسوی، آلمانی، رومانی و ایتالوی تشکیل شده است. زبانی بنام سویسی وجود ندارد، بلکه در سویس چهار زبان رسمی است، که هر قوم به همان زبان صحبت میکنند، ولی با وجود زبانها و ملیتهای متعدد، مردم سویس با هم متحد و منسجم اند و به سویسی بودن خود افتخار میکنند.

ملت یک گروه اجتماعی بزرگ است و وحدت ملی یا به تعبیر جامعه شناسان "انسجام گروه اجتماعی" با "احساس تعلق خاطر" به گروه اجتماعی حاصل میشود. یکتعداد عوامل این "احساس تعلق خاطر" و در نتیجه وحدت ملی را تقویه میکنند، مانند "هدف مشترک" ، "دشمن مشترک" و "کار مشترک" . اگر مردم یک جامعه دارای یک مجموعه اهداف مشترک باشند و یا برعکس دشمن مشترک داشته باشند، با هم متحد خواهند بود. همچنین وجود کار مشترک سبب اتحاد افراد جامعه میگردد.

جمعیت اصلاح منحیث یک نهاد دلسوز و ایثارگر برای جامعه همیشه از عوامل تقویه کنندهٔ وحدت ملی پشتیبانی نموده است، از جمله مهمترین این عوامل "هدف مشترک" است. اسلام که دین اکثریت مردم جامعه است، یک هدف مشترک بسیار عالی برای تحکیم وحدت ملی در افغانستان است. مردم باوجود گوناگونی اقوام و فرهنگها، بخاطر مسلمان بودن با همدیگر محبت و احترام مینمایند. نویسندگان کتاب «جنگ افغانستان» که دو ژورنالیست غربی به نامهای «اندریا بریگو» و

«جولیا رای» اند، بعد از تحقیق در جامعهٔ افغانستان در سالهای جهاد در برابر تجاوز اتحاد شوروی وقت، چنین نتیجه گرفته اند که افغانستان از فرهنگها، عنعنات، زبانها و اقوام کاملاً مختلف تشکیل شده است و رشتهٔ اتصال و اتحاد و وجه مشترک شان اسلام است، که سبب اتحاد شان شده است.

تقویهٔ ارزشهای اسلامی و التزام به فرامین الهی بخصوص در میان جوانان افغانستان بدون شک وحدت ملی را به بار خواهد آورد. برهمگان واضح است که جمعیت اصلاح از بدو تأسیس خویش در این راستا تلاشهای فراوانی نموده است، از درسهای اسلامی روزانه و هفته‌وار تا کنفرانسها و کورسهای یک ماههٔ معارف اسلامی، مسابقات گستردهٔ درسی اسلامی، دوره های کامل تفسیر قرآن کریم، تا هفته های فهم قرآن کریم. اگر شما به سیمای پرنور مردم در هفتهٔ فهم قرآن کریم بنگرید، ده‌ها هزار مردم از اقوام مختلف افغانستان با کمال نظم و محبت و احترام متقابل همه روزه به مدت یک هفته شانه به شانه و پهلو به پهلوی هم مینشینند و به درس قرآن کریم گوش میدهند.

وحدت ملی در میان ملل مسلمان نه از حال بلکه از صدر اسلام به وسیلهٔ پیوند برادری اسلامی تأمین شده است. دو قبیلهٔ اوس و خزرج که ۱۲۰ سال با هم درگیر جنگ بودند و همدیگر را میکشتند، وقتی اسلام هدف مشترک شان گردید، با هم متحد و برادر شدند.

جمعیت اصلاح علاوه بر درسها و کنفرانسها، یکتعداد برنامه های خاص جهت تقویهٔ وحدت ملی دایر نموده است، که از هفته های کمپاین وحدت ملی در سراسر کشور و انعکاس مسئلهٔ وحدت ملی در مجله ها، کتب فکری، رادیوهای اصلاح و تلویزیون اصلاح و شبکه های اجتماعی میتوان نام گرفت.

از جمله وسایل مؤثر در ایجاد وحدت ملی مطرح شده در جامعه شناسی، وجود "دشمن مشترک" است، تعدادی از دانشمندان درکنار "دشمن نظامی وسیاسی" "دشمن اقتصادی" و "دشمن ورزشی" را نیز مطرح نموده اند. چنانچه رقابت اقتصادی سبب تحکیم وحدت ملی در برابر رقبای اقتصادی یک ملت میشود. همچنان در مسابقات ورزشی بین دو کشور هیجان و تعقیب مسابقه و امیدواری برای پیروزی تیم ملی بر تیم کشور مقابل یک احساس مشترک در میان افراد جامعه ایجاد نموده سبب تقویهٔ وحدت ملی میگردد.

جمعیت اصلاح در پهلوی اینکه ورزش را وسیله‌یی مهم برای حفظ سلامتی میداند، به عنوان یکی از وسایل عصری برای انسجام ملی و اجتماعی در میان ملت تلقی می نماید، بخصوص قشر جوان جمعیت اصلاح مسابقات ملی ورزشی را تعقیب نموده و در رسانه های مطبوعاتی و رادیوها و تلویزیون خویش انعکاس می دهند. علاوتاً برادران جمعیت اصلاح همیشه مشوق ورزشکاران بوده و با آنها روابط دوستانهٔ دارند. به همین خاطر جمعیت اصلاح خواهان توجه خاص حکومت به ورزش وتقویه ورزشکاران بخاطر حصول نتایج بازهم عالیتر میباشد.

عوامل تخریب کننده وحدت ملی:

در مقابل وسایل تقویهٔ کنندهٔ انسجام ملی، یکتعداد عوامل نابودکنندهٔ وحدت ملی نیز وجود دارد، که جمعیت اصلاح همیشه اعضای خویش و سایر مردم را در مورد آن هشدار داده و به اجتناب از آن توصیه مینماید.

یکی از عوامل نابودکنندهٔ وحدت ملی بی توجی به منافع عامه وفدا نمودن مصلحت اجتماعی در برابر مصلحت فردی است. اختلاس ورشوه خواری، غصب زمینهای دولتی و ایجاد موانع و مشکلات در برابر حمل و نقل مردم در اماکن عامه را می توان بعنوان مثالهای درین زمینه عرض نمود.

یکی دیگر ازعوامل نابود کننده انسجام اجتماعی، بی توجهی به کار مشترک و نبود تولیدات داخلی و محتاج بودن به دیگران است. برخلاف، رشد تولیدات داخلی و ایجاد زمینهٔ های وسیع کار برای مردم در داخل طوریکه در داخل آن همه کارمندان/ کارگران از حقوق و امتیازات عادلانه برخوردار باشند، وحدت ملی را تقویت می بخشد. به همین خاطر تسهیلات برای صاحبان فابریکه ها و کم ساختن مالیات و کاهش قیمت برق و مواد سوخت تأمین کنندهٔ این فابریکه ها و دیگر تسهیلات ضروری است، تا از یکطرف کارهای دسته جمعی در فابریکه ها و دیگر پروژه های اقتصادی زیاد گردیده و سبب ارتباطات دوستانهٔ افراد جامعه از اقوام مختلف شود و از طرف دیگر نرخ بیکاری کاهش یافته و سبب کاهش فقر گردیده و احساس تعلق خاطر افراد را به جامعه و ملت

خویش زیاد سازد. این یک امر طبیعی است، زیرا فردیکه نیازهای اولیه اش توسط جامعه تأمین شود، تعلق خاطرش به جامعه افزایش مییابد.

عامل دیگر نابودکنندهٔ وحدت ملی وجود رسانه های بیگانه پرور و مجموعه های تفرقه انگیز است، که با تضاد و تمسخر و تحقیر به اقوام افغانستان ویاهم گروه های اجتماعی معین در رسانه های شان بطور مسلسل زمینهٔ بغض و عداوت و کینه توزی را در اطراف مختلف ایجاد میکنند.

جمعیت اصلاح همیشه با چنین تفرقه افگنی ها بطور جدی مخالف بوده و در برابر چنین توطئه هایی پیام روشن اسلام را که برگرفته از آیات قرآن مجید و احادیث پیامبر اکرم صلی الله علیه و سلم است، به جامعهٔ مسلمان افغانستان بیان و مورد تأکید قرار میدهد، چنانچه الله عزوجل در سورهٔ انفال آیهٔ ٤٦ میفرماید: (وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ۖ وَاصْبِرُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ) ترجمه: (و خدا و پیامبرش را اطاعت کنید, وبا همدیگر نزاع نکنید, که سست شوید, وقوت (ومهابت) شما از میان برود, وصبر کنید, بی گمان خداوند با صابران است).

رسول الله صلی الله علیه و سلم میفرمایند: (وَلا تَجَسَّسُوا وَ لا تَنَافَسُوا وَلا تَحَاسَدُوا وَ لا تَبَاغَضُوا وَ لا تَدَابَرُوا وَ كُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخوَاناً) – متفق علیه. ترجمه: (از همدیگر عیبجویی نکنید، و در دنیا داری باهم مسابقه نکنید ، باهم حسد نکنید ، با هم بغض وکینه نداشته باشید ، و غیبت همدیگر را نکنید و همه بندگان خداوند و باهم برادر باشید).

کسانیکه به بهانه ملی گرایی جمعیت اصلاح را تحت هجوم قرارمی دهند، پیام ما برایشان اینست که اگر منظور از ملی گرایی عزت مردم و آزادی مملکت است، الحمد لله ما بر این مرام از هرکس حریصتریم، چنانچه با تأسیس پایگاههای دایمی خارجی تا حد ممکن مخالفت نموده و مینماییم و بخاطر تأمین صلح، قطع جنگ و خونریزی و ایجاد یک دولت خودکفا و واقعاً مستقل، فعالیتهای متعدد و پیام واضحی داریم. و اگر منظور شان تحقق همبستگی ملی است، بازهم الحمد لله در تمام برنامه ها، درسها، سخنرانی ها و سایر خطابه های مان با ارائهٔ پیام اسلام مردم را به همبستگی فرا میخوانیم و الحمد لله مردم ما نیز از پیام دین برحق شان استقبال مینمایند. و اگر هدف ملی گرایی پیشرفت و ترقی است، جمعیت اصلاح با تأسیس دهها مؤسسهء تعلیمی و مکتب ومدرسه، مصروف تعلیم و تربیت اولاد وطن با روش عالی و صحیح است و جوانان را به مطالعه و فراگیری علم و تحصیلات عالی و تخصصی تشویق نموده و از ایشان تا حد امکان حمایت مادی و معنوی مینماید. همچنان از سایر عرصه های پیشرفت و ترقی حمایت مینماید.

اگر اهداف ملی گرایی موارد یاد شده باشد، ما از هرکس دیگر بیشتر ملی گرا هستیم. اما اگر هدف تفرقه انگیزی، تحقیر قومی دیگرازآدرس یک قوم، تقسیم سرزمین به منطقه های کوچک، جدال بر سر الفاظ، ظلم و استثمار دیگران باشد، ویاهم معامله بر سر آرای مردم، پخش و نشر فحشاء، بی شرمی و بی غیرتی، مزدوری برای دشمنان افغانستان، ازبین بردن افتخارات و هویت اسلامی مردم مان و خانه جنگی باشد، جمعیت اصلاح از تمام این موارد بریء و بیزار است.

در اخیر دو مطلب قابل یاد آوری است: اولاً اینکه همدردی و غمشریکی با سایر مسلمانان مخالف وحدت ملی و میهن دوستی نیست. این مسئله شبیه آنست که کسیکه با همسایه های خود مهربان است، به معنای بی مهری نسبت به اقوام و خویشاوندان نمیباشد، بلکه آدم مهربان به همه مهربان است.

ثانیاً اینکه جمعیت اصلاح اهداف عمرانی و روحیهٔ مثبت نگر داشته، نقاط مشترک با سایرین را جهت آبادانی کشور مورد تمرکز قرار میدهد، زیرا اسلام روحیهٔ مثبت نگر دارد؛ خداوند جل جلاله در قرآن مجید میفرماید: (قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ ۚ) سوره آل عمران آیه ٦٤. ترجمه: (بگو: « ای اهل کتاب! بیایید به سوی سخنی که میان ما و شما یکسان است، که جز خدا را نپرستیم، و چیزی را شریک او نسازیم، بعضی از ما بعضی دیگر را به جای خدا به خدایی نگیرد »).

نظر به اینکه تفاوت عقلها و اندیشه ها، وسعت دانش، شرایط اقلیمی و منابع و مآخذ میسر نزد افراد یک واقعیت است، بناءً جمعیت اصلاح اختلاف مردم در فروعات را یک امر طبیعی دانسته، مخالفان خود را معذور میشمارد. جمعیت اصلاح با تأسی به صحابهٔ رسول الله صلی الله علیه و سلم که در دیدگاه ها با هم اختلاف داشتند، ولی همدیگر را دوست داشتند و از همدیگر پشتیبانی میکردند، تمام هموطنان خویش را دوست دارد و حاضراست در نقاط مشترک با آنها همکاری نماید.

تفرقه در میان ملت یک مرض است که به تشخیص صحیح و پی بردن به ریشه ها و علل آن ضرورت داشته، باید در برابر دردهای آن صبر نمود و معالجهٔ آنرا به طبیبی باصلاحیت، دلسوز و صبور سپرد، تا الله عزوجل بر ما رحم نموده، ملت ما را از این مرض خانمانسوز شفا بخشیده، از بدبختی ها نجات داده، اتحاد و همدلی را نصیب مان سازد- وما ذالک علی الله بعزیز.

به امید وحدت واقعی تمام اقوام وملیتهای ساکن کشورتحت رأیت اسلام.

د غني، فقیر حکومت!

ډاکټر وحیدالله مصلح

ډاکټر اشرف غني پر داسې مهال د ټاکنو میدان ته راووت، چې له یوې خوا د پخواني ولسمشر حامد کرزي دویمه پرلپسې دوره پر خلکو نوره درنه وه، بهرنۍ مرستې په زوال وې، د خلکو کاذب ښه شوی اقتصاد چې یوازې مصرفي وو نور په ځوړي وو، هېواد همغسې د جنګ په مرحله کې مخ په بره روان وو، د سولې او ثبات په نوم هڅو نور خپل اعتبار بایللی وو او سیاسي وضعیت سخت د مصلحتونو قرباني وو، اشرف غني په داسې مرحله کې ټاکنو ته ځان نوماندواه چې بهرنیانو ۲۰۱۴ او ورپسې کلونه د افغانستان لپاره د جګړې، سولې، سیاست، او اقتصاد په ډګر کې خورا خطرناک بلل، او ډاکټر اشرف غني په همدغسې یوه مرحله کې د افغانستان د راتلونکي لپاره خپل منشور ولیکه، دې منشور په ځوان او لوستي قشر کې بلا هیلې وزیرولې، په منشور کې په خورا عالمانه شکل د ستونزو تحلیل او حل په نښه شوی وو، لوستي قشر په دې هر څه حساب وکړ، او په شعوري ډول یې د پلانونو او طرحو په اډانه کې یو پراخ انتخاباتي ملاتړ جوړ کړ. په دې ملاتړ کې ولسي- رایو د یو ښه راتلونکي په خاطر د بریالیتوب کرښې جوړې کړې، او بیا د طرحه شوي تقلب په شخړو کې هغه څه رامنځته شول چې نه په کې ګټونکی معلوم شو او نه په کې بایلونکي اپوزیسیون جوړ کړ، له همدې مبدا نه د راتلونکي مزل نښې ښکاره شوې...

سوله او د سولې لار!

ولسمشر له همغه لومړیه سوله او ټیکاو خپل لومړیتوب وټاکه، هغه په دې برخه کې ډېر جدي وو، پاکستان ته یې بیړني او په منډه سفرونه وکړل، ویې ویل چې پاکستان له افغانستان سره په یوې نااعلام شوې جګړه کې بوخت دی او نور باید دا جګړه پای ته ورسېږي، داسې ګنګوسې هم وې چې ښاییي غني د سولې په مقابل کې درنه بیه پرې کړي، هغه په پنډۍ کې د سیاسي دود پر خلاف د پوځ سرقوماندانۍ ته لاړ، ګلان یې کېښودل او له راحیل شریف سره یې د قضیې په اړه نېغې خبرې وکړې، اشرف غني د سولې په اړه هر عمل حساب شوی تر سره کړ او هرې لاسته راوړنې ته یې هدف وټاکه، د هغه له انده هر څه باید له مهال وېش سره سم تر سره شي، په هر صورت دې ډول عمل پاکستان له یوه جدي حالت سره مخ کړ او له همدې امله دواړو هېوادونو په څو پړاوونو کې پټې او ښکاره خبرې وکړې او پر ګټو یې چنې ووهلې.

د سولې په دې ټولو هڅو کې یو بل پټ مخ د ولسمشر غني تره عبدالقیوم کوچی دی، چې تل له مخالفو لوریو سره د خبرو اترو په پټو محورونو کې ښکارېږي، هغه تر ولسمشریزو ټاکنو مخکې د سولې او طالبانو سره د پخلاینې د اجنډا یو داسې څوک وو چې سوله غوښتونکو پرې حساب کاوه، خو نوموړی تر ټاکنو وروسته د سولې په شرایطو کې بند راغی او د ډېرو په اند اوس هغه د سولې هغه پخوانی سپن ږیری نه دی، خو په هر صورت د پګواش په څېر غونډو کې فعال حضور لري او د نظام له مخالفینو سره د خبرو

اترو یو داسې مرکچې دی چې په خبرو کې د ولسمشر د تضمینونو خبره کوي.

ولسمشر سولې ته جدي دی، او هغه په خپلو خبرو او عمل دواړو کې دا ثابته کړې ده، خو بنسټیزه پوښتنه دا ده چې هغه سوله په کومو شرایطو او کومه لاره غواړي؟ دا هغه پوښتنه ده چې ځواب یې د سولې لپاره د ولسمشر په لار نقشه کې پر یو طرفه او بالاخره بنده جاده تمامیږي، ولسمشر د سولې په خپل سیاست کې طالب او ګرد سره ټول وسله وال مخالفین هومره له تابه او مداره ویستل وغوښتل چې؛ وسله وال مخالفین په کې سره له دې چې له خپله اړخه د استقلال جنګیالي دي، خو د سولې په قضیه کې د پاکستان د لاسپوڅو په شکل په زور د خبرو اترو مېز ته راښکل کېدل، ښایي ولسمشر ته به د جنیو د خبرو اترو مرحله ښه په یاد وي، هلته چې د جهادي تنظیمونو په جبري استازولۍ پاکستان له کابل سره خبرې کولې، پای یې څومره ستر ناورینونه رامنځته شول، فرق صرف دومره وو چې هلته جهادي تنظیمونو د تاریخ په تر ټولو سترې اشتباه کې د کابل له اداري سره خبرو ته زړه ښه نه کړ، خو نن که افغان حکومت له خپله اړخه له مخالفینو سره د خبرو اترو یو روڼ بین الافغاني میکانیزم رامنځته کړي نو دا توپیر له منځه تلی شي، د سولې خبرې یو عزتمن ماحول غواړي، سوله د جنګ او زور ژبه نه غواړي او سوله یو چا ته د ذلت د احساس په ورکولو نه رامنځته کیږي، د غني تر ټولو ستره اشتباه همدا ده چې سوله د مخالف لوري په سپکولو کې تر لاسه کول غواړي.

ولسمشر د سولې په نړیوالو او منطقوي فکټورونو هومره حساب کوي چې بین الافغاني تفاهم په کې اصلاً د حساب لپاره څه نه لري، د غني په محاسبه شوې سوله کې د سولې شورا بیا هم همغه پخوانی کلیشه ایي جوړښت او د واک په جنګمارانو کې ویشلی رنګ اخلي. دلته نه د منځګړي درک شته او نه دریمګړي ته اجازه، اصلاً د کابل په سیاسي فضا کې منځګړي او دریمګړي دا کلونه کېږي چې اعتبار نه اخلي، سره له دې چې ډېری افغاني جهتونو د دریمګړو او منځګړو په توګه قدونه جیګ کړل خو د افغانستان سیاسي او جنګي فضا وربانديې د حساب کولو فرصتونه قات کړي، منطقوي او نړیوال قدرتونه هم د بین الافغاني تفاهم اډانه ځوانېدو ته نه پرېږدي.

ولسمشر د سولې لپاره لار نقشه ناسمه ټاکلې، دا لار نقشه تعدیل نه، بلکې بدلون ته اړتیا لري، د سولې لپاره باید تصمیم نیونکي افغاني سرچینې واوسي، کېدای شي ګاونډیان او منطقوي او نړیوال قوتونه په کې ناظرین او ضامن نقش ولري، خو دا باید خپله افغانان وي چې د هېواد په اړه د جنګ او سولې پرېکړه وکړي، له همدې امله د سولې لپاره د سولې ژبه، ریښتینی دریمګړی او منځګړی، بین الافغاني چاپېریال او تېرېدنه اساسي توکي دي.

په لنډ ډول یې که ووایو نو ولسمشر د سولې لپاره لار نقشه ناسمه ټاکلې، دا لار نقشه تعدیل نه، بلکې بدلون ته اړتیا لري، د سولې لپاره باید تصمیم نیونکي افغاني سرچینې واوسي، کېدای شي ګاونډیان او منطقوي او نړیوال قوتونه په کې ناظرین او ضامن نقش ولري، خو دا باید خپله افغانان وي چې د هېواد په اړه د جنګ او سولې پرېکړه وکړي، له همدې امله د سولې لپاره د سولې ژبه، ریښتینی دریمګړی او منځګړی، بین الافغاني چاپېریال او تېرېدنه اساسي توکي دي.

سیاسي بې ثباتي

څه موده مخکې د امریکا د ملي استخباراتو مشر وړاندوینه وکړه چې کېدای شي د ملي وحدت په نوم رامنځته شوی حکومت د ۲۰۱۶ کال تر پایه دوام ونه کړي، دا وینا د یوې پراخې سیاسي بې ثباتۍ هغه انځور دی چې خپله امریکایانو مهندسي کړی، له بده مرغه د افغانستان په ځواني ډیموکراسۍ او سیاسي عمر کې د لوبغاړو عمرونه ډېر واړه دي، او ښایي یو لامل یې دا هم وي چې دلته حکومت او اپوزیسیون دواړو ته کرکټرونه غرب انتخابوي، له هرې لورې اوبه د غرب په اسیاب کې غورځېږي او ګټونکی بالاخره لویدیز دی.

د ملي وحدت تر عنوان لاندې حکومت جوړېدل چې په ښکاره یې خو میاشتنی سیاسي اړودوړ ته پای ورکړ خو اصلاً یې په ځان کې د سیاسي بې لارۍ او ګډوډۍ څپې د واک په سمندر کې پټې کړې او دا څپې هر مهال کېدای شي حکومت ته ړنګوونکي ټکانونه ورکړي.

د واک دغسې غیر طبیعي وېش د ولسمشرۍ د دواړو کاندیدانو انتخاباتي اجنډاوې له تطبیقه وغورځولې، او په ځانګړي ډول د ولسمشر واک په دغسې پېچ و خم کې ډېر محدود شو، په دا دومره موده کې ولسمشر ونه شو کولای چې والیان مقرر کړي، دفاع وزارت لا تر دې دمه سرپرست اداره کوي، وزارتونه په سیاسي ګڼ ویش کې ښه حالت نه لري، په ډېری وزارتونو کې د معینانو ټاکل سلیقوي او تنظیمي کشمکشونه لري، د ولسي-

جرگـــې او ولایتـــي شـــوراګانو ټـــاکنې تـــر نامعلومـــه وختـــه ځنډېدلي او داسې ډېرې نـورې بېلګې.

واک یوازې د غني او عبدالله په مـنځ کـې نـه دی ویشـل شـوی، بلکـې دا واک پـه پـراخ ډول د واک پـــه فرعـــي څـــانګو کـــې سلیقوي توزیع شوی، ظرفیتونه او استعدادونه هغسې چې فکـر یې کېده واک تـه رانغلـه، بلکـې واک پـــه بېســـاري ډول د دواړو خـواو ایتلافیونـو پـه مـنځ کـې ویشل شوی، دې ویش لـه یـوې خـوا د ظرفیتونـو د رامخکـې کېـدو مخه نیولې له بلې خوا یې قومي او مذهبي ویشونه رامنځته کـړي، د بېلګـې پـه توګـه د حکومـت پـه دننـه کـې د ولسمشر- لـومړی معاونیت، اجرایه ریاسـت او نـور معاونیتونـه د مشخصـو قومونـو لـه ادرسه د واک حق غواړي.

ولسمشر د داسې ګوتو په شمېر ځوانانو کې راتاو دی چـې د خپلو کلیو له فرهنګ او ارزښتونو خبر نه دي، هغوی د ملت په ارزښتونو ملنډې وهي عالم تـه کنځلـې کـوي او دینـي رمزونه ټکوي او دا هر څه په ټولنه کې خلکـو تـه ولسمشر- تعریفوي، داسې انقلابي ځوانان خداکه د خلقـي نظـام پـر مهال دومره له عقله په فرار کې وو. دا هر څه لاشـعوره نـه کېږي، خو دا چې دا شعور د چا دی چې له ملت سره بیا هم د ټکر پر کرښه درېږي او د کنځلو پـه ژبـه خـبرې کـوي؟ ولسمشر باید د دې کنځلمارو نوغی پیدا او وباسي که نه پـه دې ټولنه کې ډېر داسې انقلابیان ټانکونو او طیارو او سترو ځواکونو د ملت له غوسې ونه ژغورل. د کنځلـو پـه دې بـې مهذبه ماحول کې به خاورې د ارګ او مسجد لاره لنډه شي.

پر دې حالاتو څو عمده فکتورونو اغېز کـړی، لـومړی پخـوا پـه افغانسـتان کـې ګـڼ شـمې بهرنیانو شتون درلود، دې بهرنیانو له ځانونو سره ګڼـې پـروژې درلـودې چـې بېلابېلـو شرکتونو پلې کولې په دغو شرکتونو کـې ګـڼ شمېر افغانان په کـار بوخت وو، د خارجیـانو پـه وتلـو نومـوړي شرکتونـه وتـړل شـول او کارکوونکي په کورونو کېناستل. دویم خپله د مـلي وحـدت غـیر متجـانس حکومـت د اقتصادي حالت پر خرابېدا اغیز لري او په بل مهم قدم کې امنیتي خراب حالات د پانګونو مخه نیولی او په دې ډول اقتصادي حـالات د ښه کېدو پر ځای خرابېدو خوا ته روان دي.

اقتصادي حالت

افغانستان به د اسیا پـر څلـور لارې بـدلیږي، لـه افغانسـتان نـه بـه منځنۍ اسـیا تـه تجـارتي تـوکي ځـي، معـادن بـه راسـپړل کېـږي، خلکو ته به روزګار پیدا کېږي، صـادرات بـه زیـاتیږي، فـابریکي بـه جوړیږي، پانګونې به پراختیا مومي، خلکو ته به کورونه جوړیږي او دېته ورته په لسګونو نورې ژمنې داسې وې چې د ټـاکنو پـر مهـال یې خلک راتلونکي ته هیله من کړي وو.

سره له دې چې د ولسمشر ډېرې ژمنې اوږده مهـالې دي، او وخـت ته اړتیا ده چې پرېکړه وشي چې نوموړی په خپلو ژمنو کې بریـالی دی که نه، خو که د حالاتو میلان اندازه شي نو په ډاګه کیږي چـې هر څه سم نه دي روان، نه خو د دې کومې نښې کتـل کیـږي چـې ګنې افغانستان دې د اسیا څلور لارې شي او نه د کـانونو د سـپړلو کومه خوندي برنامه په کار اچول شوې، نه خو د رېـل کومـه پـاټلۍ وغځېده او نه صادراتو کې تغیر راغـی، حـالات داسـې پـر مـخ لاړل چې ګڼې وړې او لوی فابریکې په ټپه ودرېدې، د خلکو روزګـار پـه ښه حالت کې نه دی او په مجموع کې اقتصـادي حالـت زبېښـلی دی.

د ارګ او مسجد لار

ولسمشر تقریباً کال مخکې ولسي جرګې ته په وینا کې وویـل چـې د ارګ او مسجد تر منځ واټن لرې کول د حکومت پـه لومړیتوبونـو کـې دي، پـه دې ټولـه مـوده کـې د دې دعـوې لپـاره هـیڅ داسـې شاخص نه شته چې د دې واټن د کمېدو اندازه تـرې معلومـه شي، بلکې ریښتیا خبره دا ده چې ارګ په بېلابېلو وختونو کې د داسـې ځوانانو په ولکـه کـې راغلـی چـې دینـي عالمـانو او دینـي نښـو تـه سپکې ویل یې هنر دی، جهـاد او د ملـت قربـانیو تـه سـپکه یـې د کـار محـور دی او دا ټـولې چـارې د ارګ او مسـجد لارې نـه نـزدې کوي.

ولسمشر د داسې ګوتو په شمېر ځوانانو کې راتاو دی چـې د خپلـو کلیـو لـه فرهنـګ او ارزښـتونو خـبر نـه دي، هغـوی د ملـت پـه ارزښتونو ملنډې وهي عالم ته کنځلې کوي او دینـي رمزونـه ټکـوي او دا هـر څـه پـه ټولنـه کـې خلکـو تـه ولسمشر- تعریفـوي، داسـې انقلابي ځوانان خداکه د خلقي نظام پـر مهـال دومـره لـه عقلـه پـه فرار کې وو. دا هر څه لاشعوره نه کېږي، خو دا چې دا شـعور د چـا دی چې له ملت سره بیا هم د ټکر پر کرښه درېږي او د کنځلـو پـه ژبـه خـبرې کـوي؟ ولسمشر- بایـد د دې کـنځلمارو نـوغی پیـدا او وباسي کـه نـه پـه دې ټولنـه کـې ډېـر داسـې انقلابیـان ټـانکونو او طیارو او سترو ځواکونو د ملت له غوسې ونـه ژغـورل. د کنځلـو پـه دې بې مهذبـه مـاحول کـې بـه خـاورې د ارګ او مسـجد لاره لنـډه شي.

اړیکې: habibi@eslahonline.net

گلبرګهای ادب

هغه اعمال، چې جنت ته ستا د تګ ضمانت کوي

د ژبې او فرج ساتنه

رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چې ما ته د دوو ژامو ترمنځ (ژبې) او دوو ورنونو ترمنځ (فرج) ضمانت راکړي (په غلط ځای کې له استعمال څخه) زه به د جنت ضمانت و رکړم.

د جنتيانو خويونه خپلولول

له ابوهريره رضي الله عنه روايت دی چې رسـول الله ﷺ و فرمايل: نن چا روژه نيولې ده؟ ابوبکر رضي الله عنه وويل: ما، بيا يې و فرمايل: چا ښوزله ته ډوډۍ ورکړې؟ ابوبکر وويل: ما، بيا يې وفرمايل: چا نن د ناروغ پوښـتنه کړې؟ ابوبکر وويل: ما، نو بيا رسـول ﷺ وفرمايل: هرڅوک، چې په يوه ورځ کې دا کارونه وکړي نو خامخا به جنت ته داخل شي.

له مور او پلار سره نېکي

رسـول الله ﷺ فرمايي: پوزه دې خړه شي، پوزه دې خړه شي، پوزه دې خړې شي، نو غږ وشو، چې د چا يا رسول الله؟ نو هغه ﷺ وفرمايل: د هغه چا چې مور او پلار دواړه او يا يو هم له هغوی څخه په بوډاوالي کې ومومي او بيا هم جنت ته داخل نه شي.

د علم لټه

رسـول الله ﷺ فرمايي: چا چې د علم لاره ونيوله الله تعالی به (ددې علم په اسـاس) هغه ته د جنت لاره آسانه کړي.

له اودس وروسته د زړه په حضور دوه رکعته

رسـول الله ﷺ فرمايي: هر مسـلمان، چې اودس وکړي او بيا يې په ښـه طريقه وکړي، بيا پاڅېږي او دوه رکعته لمونځ په ظاهرې او باطني توجه دواړو سره اداء کړي، نو الله پاک به ورته جنت واجب کړي.

د دروغو منزل لنډ وي

د پوهنتون استاذ ټولو محصلينو ته خاصې ګلدانۍ ورکړې او ورته يې وويل، چې په دې کې مو يو ډول تخم اچولی، چې بوټی به ترې راشين شي، يو کال وروسته، چې هر چا له بوټي ښه سا تنه کړې وه هغه د جايزې وړ ګڼل کېږي، محصلين لاړل او د ګلدانيو پالنه يې پيل کړه، يو کال وروسـته ټول په خپلو خپلو ګلدانيو کې له ښکلو بوټو سره راغلل، خو يو تن له خاورې ډکه ګلدانۍ راوړه، استاذ ترې پوښتنه و کړه، چې تا ولې خالي راوړې؟ هغه ورته وويل: زما چې د بوټو د پـالنې هرڅومره طريقې زده وې ټولې مې وکارولې خو بوټی را شـين نه شـو، استاذ همدا محصـل د جايزې وړ معرفي کړ، نور محصلين حيران شول، چې دا ولې؟ استاذ ورته وويل: تاسـو ته مو، چې څومره ګلدانۍ درکړې وې په هغو ټولو کې نينې شـوې تخم اچول شوی ؤ، ځکه نو له هغې څه نه راشنه کېدل، نو تاسو ټولو چې په هغه کې کوم ګلان او بوټي لـه ځانه کرلي دی، معنی دا، چې دروغ مو ويلي او د جايزې د اخيسـتلو په موخه مو خيانت کړی دی.

د کاڼي کرښې

- نارينتوب دا نه دی چې پر ښځه، ماشوم، خوار او غريب باندې پټکې وکړئ، بلکې نارينتوب او غيرت دا دی چې د دې ځلورو ډلو احترام وکړئ.
- انسان نه ځان پيدا کړی او نه يې خپل شکل او وجود ته ښکلا او بد رنګي ورکړې ده، نو پر چا ملنډې د الله پر خلقت ملنډې دي.
- د چا چې له ځان سره مينه زياته شوه، نو بې له شکه چې د خلکو به ورسره کرکه زياته شي.
- ژبه د هېوکي نه ده، خو ځينې وخت هېوکي ماتوي.
- که غواړئ چې لنډمهاله خوښـي تر لاسـه کړئ، نو انتقام واخلئ او که غواړئ چې هميشـه خوښ اوسئ، نو ښښنه وکړئ.

کوترې که د سرطاني ناروغيو ډاکټرې

که څه هم دا پوښـتنه حيرانوونکې ده خو د سرطاني نسجونو د تشخيص په برخه کې د کوترو د سـترګو نه ګټه اخيستل هغه څه دي چې اوسمهال په طبي لابراتوارونو کې پرې کار کېږي.

د امريکا د کليفرونيا د پوهنتون طبي پوهانو په لابراتوار کې ځانګړو روزل شـوو کوترو ته د روغو او سرطاني نسـجونو د اېکسرې عکسـونه وښـودل چې د کوترو لخوا د سرطاني نسجونو تشخيص وشو.

د پوهانو په اند د کوترو د سـترګو جوړښـت داسـې دی چې ځينې داسـې رنګونه ليدلی شي چې حتی مايکروسکوپ يې هم د ليدو توان نه لري.

پوهان وايي چې په ځانګړې توګه د تي د سرطاني ناروغيو د تشـخيص په برخه کې د کوترو له سـترګو د سرطاني نسجونو تشخيص ۹۹ سلنه بريالی دی.

دا پـه داسـې حـال کې ده چې د راډيولوژۍ د متخصـصـينو لخوا بيـا د ځـانګړو ميکروسکوپونو په واسطه د ترسره شوو تشخيصونو د بريالیتوب کچه ۸۰ سلنه وه.

ويل کېږي چې کوترې به په راتلونکې کې د نويو ايکسرې ماشـيونونو د جوړولو په برخه کې وکارول شي.

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

و معلوماتی

متوجه خانواده تان باشید، در غیر آن....

برادران گرامی! متوجه باشید که تلاش در جهت اصلاح خانواده، یکی از مقدس‌ترین مسؤولیت‌های‌تان به شمار می‌آید؛ امت اسلامی در واقع متشکل از مجموع همین خانواده‌ها است؛ اگر پایه‌های خانواده‌ها مستحکم گردید، همراه با آن زیربنای امت اسلامی نیز قوی خواهد شد و ما از کارآیی نسل آینده کاملاً مطمئن خواهیم گردید.

با اعضای خانواده، وابستگان و دوستان خویش تعامل توأم با مهر و عطوفت داشته باشید و همه را به پذیرفتن اندیشهٔ خویش وادار نموده و با ادب و لطف و منطق و دلیل آنان را به برتری رأی، اعتدال روش و مفید بودن کار و تلاش خویش قانع سازید، تا این‌که در کار و فعالیت مقدس‌تان شما را همراهی کنند.

برادران من! بدانید که اولین سلاح شما در این مسیر، وحدت صف و رابطهٔ قوی تان می‌باشد؛ این چیز قوی‌ترین سلاحی است که آن را در دست دارید؛ وحدت خویش را با حرص تمام حفظ کنید و همیشه با جماعت باشید و از اوامر برادران تان سرپیچی نکنید؛ متوجه باشید که مشغله‌های بی‌ارزش و اوهام کشنده شما را متفرق نسازد. (امام حسن البناء).

